UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
Briefing to the Security Council
http://unama.unmissions.org

## ملګرو ملتونو امنيت شورا ته د افغانستان لپاره د سرمنشي د د ځانګړی استازی، ښاغلی نيکولاس هيسم وينا

*[لکه څنګه چې ورانديې شوی]*

**نيويارک، ۱۵ مارچ ۲۰۱۶**

***

ښاغلی رئيس، د شورا غړو،

په ۲۰۱۶ کال کې افغانستان لکه د ۲۰۱۵ کال په شان په سخت ډول آزمايل کېږي، ځکه چې بايد خپل ستونزمن انتقال او ورسره تړلې سياسي، اقتصادي او امنيتي ننګونې مديريت کړي.

د دې لپاره چې افغانستان ۲۰۱۶ کال په برياليتوب سره تېر کړي، د ملي يووالي حکومت بايد پر پنځو څرګندو خنډونو لاس بری شي: راکمېدونکی اقتصاد چې له ټيټې ودې او لوړې بېروزګارۍ سره مل دی؛ ورځ تر بلې زور اخيستونکې بغاوت چې ځينې خلک يې د ورو ورو تخريبېدونکې بنبست په توګه ګڼي؛ او په زياتېدونکې توګه پارېدلی او وېشلی سياسي چاپېريال. سربېره پر دې، افغانستان بايد چې د منځ مهال لپاره له نړېوالې ټولنې څخه د پام وړ مالي ملاتړ خوندي کړي، هغه ملاتړ چې ټاکل شوې په همدې اوړي کې ورباندې په ورساو او بروکسل کنفرانسونو کې بحث وشي. او په پای کې، افغانستان بايد د داسې تلپاتې سولې پر لور پرمختګ وکړي چې پرته له هغې ټولې نورې لاسته راوړنې له ګواښ سره مخ کېږي.

د ۲۰۱۶ کال لپاره، يوازې بقا هم د ملي يووالي حکومت لپاره يو مهم لاس ته راوړنه بلل کېږي. کېدای شي ځينې کسان دا معيار ټيټ وبولي، خو بيا هم افغانستان بايد له دغو پنځو هر يو خنډ څخه تېر شي تر څو له سختو پايلو څخه ځان وژغوري.

بقا د نه اقدام يا پر ځای د ولاړېدو په معنا نه ده؛ بقا يعنې دا چې موږ په فعاله توګه د دغو ننګونو په مقابل کې مبارزه او مقابله وکړو.

ښاغلی رئيس،

د اقتصاد له پلوه موږ منو چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې د نړېوالې ټولنې د وتلو د ټکان ارزښت په سمه توګه و نه پېژندل شو. په ۲۰۱۲ کال کې هغه پرېکړې چې د افغانستان د راتلونکې په اړه وشوې، دا اټکل يې کاوه چې کلنی اقتصادي رشد به له ۸ سلنې سره دوام ومومي او دا چې د افغانستان د بډايه معدني زېرمو استخراج به اقتصادي پرمختګ ته وده ورکړي. خو اوس روښانه شوې چې هېڅ يو له دې دواړو به رامنځته نه شي. نړېوال بانک اوس د ټيټې کچې له بنسټ څخه هم ټيټ اقتصادي رشد اټکلوي. سربېره پر دې، وروستی هوا پېژندنې وړاندوينه ښيي چې د هېواد ځينې سيمې کېدای شي د روان اوړي په اوږدو کې د وچکالی له امله وځورېږي او په دې توګه د افغانستان بشري زيان منېدل لا پسې ډېرې شي.

د اقتصادي ودې ټيټه کچه د زياتې بېروزګاری لامل شوې ده. هر کال سلګونه زره ځوانان چې غواړي د کار قوې ته داخل شي، دندو له نشتون سره مخامخ دي او ورسره په دولتي او خصوصي ژوند کې د فساد له کبله شکايتونه هم لري. د همدې لاملونو ګډ اغيز نه يوازې د کډوالی هڅونه پياوړې کوي، بلکې د ټولنيزې بېثباتی لپاره هم بنسټ برابروي.

ښاغلی رئيس،

خو دغه انځور د حکومت له هغو هڅو سره يو ځه ښه روښانه کېږی چې د اصلاحاتو د اجنډا په پلي کولو سره – چې د متقابل حساب ورکولو له لارې ځانبسيانې په چوکاټ کې يې تشريح کړی – د کار موندلو فرصتونه رامنځ ته کړي. په ۲۰۱۵ کال کې، حکومت د نړيوال پولي صندوق له وروستي څارل شوي پروګرام څخه لاندې ټاکل شوي موخې، او همدارنګه د کورنيو عوايدو د راټولولو هدفونه، پوره کړل. حکومت له هغو مالي ستونزو (د نغدو پيسو له کرکېچه) څخه ځان وژغوره چې په ۲۰۱۴ کال کې ورسره مخ و. او اوس حکومت په وسلهوالو ځواکونو، ملکي خدمتونو، د بانکدارۍ په سکتور او د عامه قراردادونو په برخو کې د پراخ فساد فرهنګ پای ته رسولو لپاره خپله ځرګنده اراده اعلان کړې او لومړني ګامونه يې هم پورته کړي دي.

له خپلو ګاونډيانو سره، هم په دوه اړخيزه توګه او هم د آسيا زړه پروسې، او د افغانستان لپاره د سيمه ييزو همکاريو کنفرانس (RECCA) په څېر د نوښتونو له لارې، د حکومت ښکېلتيا د سيمه ييز اقتصادي ادغام د موخې لپاره، اوس نتيجه ورکول پيل کړي دي؛ چې يوه بېلګه يې د TAPI پروژې پرانېسته ده. دغه پرمختګونه هيلې ښوونکي دي، خو د ځانبسيانې پر لور د اوږدې لار يوازې لومړني ګامونه ګڼل کېږي.

ښاغلی رئيس،

د امنيتي وضعيت په اړه، موږ د سختې جګړې فصل اټکل کولای شو. طالبان، چې په کندز او نورو سيمو کې له خپلو پوځي برياوو له امله زړور شوي دي، به همدا اوس په ټول هيواد کې په جنوبي ولايتونو کې له هلمند څخه نيولې د شمال د بغلان تر ولايته پورې د افغانستان امنيتي ځواکونو ازمويلو ته دوام ورکوي؛ خو سره له دې، په داسې حال کې چې دا لومړی کال ده چې افغانستان قومانده په خپل لاس کې نيولې، خو د افغانستان امنيتي ځواکونه د تلفاتو او دندو د خوشي کولو د لوړو کچو سره سره په عمومي توګه ځان ساتلی.

د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه هڅه کوي چې له نوي وضعيت سره ځان عيار کړي او لا يې بهتر کړي. دوي له کندز او نورو سيمو څخه درسونه زده کوي، په دې هيله چې په دې کې د وسلوالو مليشو په کارونې پورې اړوند درسونه هم شامل وي. دوي خپلې لومړۍ کرښې قطعې بېرته منسجموي او په ميدان کې خپل ځواکونه، چې مخکې ډېر منتشر و محدودې او

متمرکزې سیمې ته راټولوي، تر څو د عملیاتو لا ډېر یرغلیز دریځ خپل کړي او د جګړې د فصل له رارسېدو مخکې وسله‌وال مخالفین له دې منع کړي چې زور واخلي او پیاوړي شي.

وضعیت ډېر حساس دی؛ په ځانګړې توګه ځکه چې د یوه ولایتي مرکز سقوط، که د لنډې مودې لپاره هم وي، د ملي وحدت حکومت پر سیاسي حیثیت سترې پایلې او اغېزې لرلای شي.

له مثبت اړخه که وګورو، زما د تېرې وینا راهیسې، د اسلامي دولت یا داعش فعاله حضور د هېواد ختیځ ته په یوه کوچنۍ سیمه کې محدود شوی، چې دا وضعیت د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتو او د نړېوالو ځواکونو د ملاتړ په پایله کې رامنځته شوی.

ښاغلی رئیس،

د سیاسي انتقال په اړه، د ملي وحدت حکومت لا هم د اقتصادي او امنیتي وضعیت د خرابېدو له امله تر نیوکو لاندې دی، که څه هم دا وضعیت د ده د خپل کار پایله نه ده. دغه حکومت د ویشل شویو نخبه ګانو له خوا، د ملي یووالي ضروري احساس د کمزورتیا، او د دې په پایله کې هغه تر ټولو قیمتي سیاسي سرمایه، یعنې د راتلونکي په اړه باور، د زیامنېدو له درکه ننګول کېږي.

د اوسني سیاسي چوکاټ د بیاکتنې د غوښتنو سره سره، ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ټولو لوریو ته په څرګنده ویلي چې دوي د ملي وحدت له حکومت څخه کلک ملاتړ کوي. موږ کولی شو په مثبت ډول راپور کړو، سره له دې چې په مؤثره تصمیم نیونه کې ځنډونه موجود وو، حکومت اوس لوی څارنوال او د کورنیو چارو وزیر ټاکلي دي. خو بیا هم یو شمېر مهم پوستونه لا تر اوسه تش پاتې دي او باید ډک شي.

د ټاکنو اصلاحات د ملي وحدت حکومت لپاره ځکه مهم دي چې د ولسواکۍ په لور څرګند پرمختګ وښیي او هغه ژمنې پوره کړي چې په ۲۰۱۴ کال کې یې له خلکو سره کړې وې. د ۱۵م اکتوبر د ټاکنو د نېټې اعلان یو څه روښانتیا رامنځته کړې ده، خو د ریښتیني پرمختګ لپاره اړینه ده چې د ټاکنیز نظام اصلاحات عملي شي او د ټاکنو د مدیریت ادارې جوړې او فعاله شي.

ملګرو ملتونو په څرګنده ویلي چې تمه لري افغانان دغه پرېکړې په چټک ډول او د تر ټولو پراخ ملي اجماع پر بنسټ ترسره کړي. موږ راپور ورکولی شو چې حکومت بالاخره همدا اونۍ یو فرمان صادر کړی چې د نوې ټاکنیزې کمېټې (د کمیشنرانو د نوماندۍ لپاره د ګزینش د کمیټې د جوړېدو حکم کوي تر څو د انتخاباتو خپلواکو کمیشنرانو لپاره نوماندان معرفي کړي. سره له دې، د چمتووالي د بشپړولو بیړنۍ اړتیا لا هم پر خپل ځای ده، او که دغه چمتووالی ترسره نه شي، نو منفي سیاسي پایلې به ولري.

ښاغلی رئیس،

په راتلونکو میاشتو کې به نړیواله ټولنه په وارسا او بروکسل کې دا مهمې پرېکړې وکړي چې له افغانستان سره به د کومې کچې او کوم ډول مرستو ته دوام ورکړي. ځکه چې هېواد لا هم د حکومت د لګښتونو شاوخوا ۶۹ سلنه د بهرنیو مالي سرچینو په مټ

پوره کوي، نو که نړیواله ټولنه له افغانستان سره د منځمهاله ژمنې کولو کې پاتې راشي، دا به هم له مادي پلوه او هم د عادي افغانانو د باور د سطحې له پلوه ډېر سخت منفي اغېز ولري.

د دې لپاره چې نړیواله پاملرنه او سرچینې بدیل غوښتنې هم لري، مرستندوی هېوادونه باید ډاډمن شي چې د دوي مرستې به عیني او څرګند اغېز ولري. افغانستان باید په ځانګړي ډول وښيي چې له فساد سره د مبارزې، د لازم اداري اصلاحاتو، د ناقانونه اقتصاد د له منځه وړلو او د افغانستان د راتلونکې په اړه د باور د رامنځته کولو جدي ژمنتیا لري. په افغانستان کې پانګونه باید داسې وښودل شي چې د مهاجرینو د منلو له لګښتونو څخه غوره بدیل دی. خو، د افغانستان د اصلاحاتو د برنامې په اړه د مرستندویو هېوادونو تمې باید واقعي وي او هغه سترې ستونزې په پام کې ونیسي چې هېواد ورسره مخ دی. خپله یوناما به هم له مرستندویو هېوادونو او حکومت سره مرسته کوي څو پر دې پروګرام ګډه اجماع رامنځته کړي.

ښاغلی رئیس،

وروستی خنډ دا دی چې د تلپاتې سولې پر لور باید عملي پرمختګ وشي. افغانان سوله غواړي، سوله یې حق ده، خو تر ټولو مهمه دا ده چې هغوي سولې ته اړتیا لري. که د سولې بهیر موجود نه وي، نو زموږ ټولې هڅې به چې په بروکسل، وارسا، نیویارک او نورو ځایونو کې د افغانستان د ثبات او هوسایښې لپاره روانې دي، د پایښت او د عملي کېدو له پلوه له پوښتنې سره مخ شي.

د څلور اړخیزې همغږۍ د ډلې جوړېدل یو د ستاینې وړ پرمختګ دی چې د سولې د بهیر د بېرته پر لار کولو هڅې یې له سره پیاوړې کړې دي. موږ په ځانګړي ډول د پاکستان هغه هڅې ستایو چې د دغو خبرو په منځګړیتوب کې مرسته کوي. د بریالۍ سولې بهیر به د ګاونډیو هېوادونو او پراخې سیمې ملاتړ ته اړتیا ولري. له همدې امله، او د ترهګرۍ د سیمهییز اړخ د پراخېدو له کبله، دا ډېره مهمه ده چې سیمه د دغه ګډ ګواښ پر وړاندې په یوه ګډ دریځ او ګډې تګلارې سره همکاري وکړي، او همدارنګه د افغانستان د سولې له ابتکارونو څخه د ملاتړ لپاره عملي ګامونه واخلي.

موږ وار وار غوښتنه کړې ده او لا یې هم کوو چې له دې کچې کم څه ونه منل شي، یعنې باید د طالبانو او د افغانستان د حکومت تر منځ نېغ په نېغه خبرې وشي.

تېرې اوونۍ ما یو ځل بیا د طالبانو له سیاسي کمیسیون سره وکتل او ټینګار مې وکړ چې په افغانستان کې سوله یو بین الافغاني خبرو اترو ته اړتیا لري چې په ناچار ډول باید طالبان او د طالبانو اړوند ډلې په کې ښکېل وي. خو دوي بیا هم دا خبره تکرار کړه چې لا تر اوسه د حکومت سره د مخامخ ښکېلتیا لپاره چمتو نه دي.

ملګري ملتونه به له ټولو ښکېلو لورو سره په پوره زور سره اړیکې ساتي او د ملاتړ، مرستې، سلا مشورې، منځګړیتوب او د اضافي اړیکو د کانالونو وړاندیز به کوي.

هره لار چې په راتلونکې کې غوره کېږي، ملګري ملتونه به د سولې په هر ډول بهیر کې د ښځو د بشپړې ونډې ملاتړ هم کوي، تر څو د ښځو غږونه واورېدل شي او د هغوي حقونه خوندي وساتل شي.

ښاغلی رئیس،

تېر کال په جګړه کې یوولس زره افغانان، چې ټول ولسي وګړي وو، وژل شوي یا ټپیان شوي دي. د دغو قربانیانو څلورمه برخه ماشومان وو. موږ پوهېږو چې د دغه شمېر تر شا د کورنیو او ټولنو د پاتې غړو دردناک تاوان او ژور غم پروت دی. اوس دا بسنه نه کوي چې د جګړې اړخونه یوازې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه عمومي څرګندونې وکړي؛ دوی باید د جګړې د ترسره کولو تګلار بدل کړي.

ملګرو ملتونو په وروستیو کې د بریدونو او چاپو د هغه اندېښمنوونکي لړۍ په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړې ده چې پر تعلیمي او روغتیایي مرکزونو ترسره کېږي او د نړیوالو بشردوستانه معیارونو سرغړونه ده. خو له بلې خوا، موږ د حکومت ژمن پاتې کېدل او وروستۍ هڅې ستایو چې د جګړې له اړخونو سره د ماشومانو د جلب او جذب د مخنیوي لپاره یې کړي دي.

ښاغلی رئیس،

یوناما د خپل نوي او تازه شوي ماموریت هرکلی کوي چې نن د دغې شورا له لوري تصویب شو. او موږ تاسو ته ډاډ درکوو چې د افغانستان د ولس د ګټې لپاره د خپل ماموریت د لا اغېزمن پلي کېدو په برخه کې پر خپلې ژمنې ولاړ یو.

له تاسې څخه مننه.

***

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org
UNAMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube